# پښتو ادبي بورډ پېښور
# Pashto Adabi Board Peshawar

Zar Muhammad Sangar*

**Abstract:**

Pukhto Adabi Board Peshawar was formed in 1992 for the uplifting of Pashto language, Literature, history, criticism, research, folklore, Dictionary, Translation, fiction and poetry. It works like Pashto Academy. The board works for promotion of Pashto literature regarding all aspect of it. It fills all the empty racks of Pashto literature.

**Keywords:** Pashto Adabi Board, Tatara, Projects, Translation, Books Printing, Language, Literature.

د پښتو ژبې او ادب د خدمت دپاره خدا ے پاک وخت په وخت ځينې خلق پېدا کوي چې د هغوي څخه دغه کار واخلي او د شروع نه دغه سلسله هم دغه شان روانه ده- ځينې کسان داسې هم وي چې هغوي په يواځې ځان د ادارو او اکېډمو هومره کار په يواځې ځان وکړي- ولې بيا هم د دغه ادارو اهميت او قدر و قيمت په خپل ځا ے مسلم د ے-

په خېبر پښتونخوا کښې د ادبي جرګو نه علاوه مونږ سره دوه ادارې درسې شته چې هغوي په سرکاري او غېر سرکاري توګه د پښتو ژبې او ادب خدمت ته ملا تړلې ده چې پکښې يوه پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون او بله اداره ''پښتو ادبي بورډ '' د ے-

د پښتو ادبي بورډ قيام دپاره د پخواني چېف سېکرټري ښاغلي محمد اعظم خان او امتياز احمد صاحبزاده کوششونه د ستائېنې وړ دي-

د پښتو ادبي بورډ د قيام دپاره په کال ۱۹۹۲ء کښې دغه وخت د صوبې چيف سېکتر ښاغلي محمد اعظم خان پنځوس لاکه روپۍ منظورې کړې- د بورډ جوړولو مقصد د پښتو ژبې او ادب پرمختګ او ترقي وه او دې بورډ دغه خدمت ته ملا وتړله چې څۀ موده

* Lecturer Pashto Department ICU Peshawar

پس ئي درې مياشتنۍ رساله د '' تاترې '' په نوم جاري کړه- چيف ايډيټر ئې محمد اعظم خان وۀ او تر اوسه پورې ئې دغه ښاغلے چيف ايډيټر دے-

د پښتو ادبي بورډ وخت په وخت يو ځاے نه بل ځاے او د بل نه بل ځاے ته منتقل شوے دے ولې خپل کار او خدمت ئې نۀ دے پرېښے-

د بورډ اولنے دفتر په کال ۹۳-۱۹۹۲ء کښې د پېښور په سول سکرټرېټ کښې وو- دغه ځاے نه په ۹۶-۱۹۹۵ء کښې آرکائيوز لائبرېرۍ ته منتقل شو- پهکال ۲۰۰۰ء کښې رحمان بابا کالونۍ نه يوړے شۀ- پنځه کاله پس په کال ۲۰۰۵ء کښې اشرفيه کالوني عيدګاه روډ ته لاړو او دولس کله پس په کال ۲۰۱۷ء کښې خواجه ټاؤن سټريټ نمبر۲، هاؤس نمبر ۱۴۹، نزد باچا خان مرکز ته لاړو چې تر اوسه پورې خپل فعاليتونه تر سره کوي- دې وخت کښې د دفتر کرايه درويشت زره روپۍ (۲۳۰۰۰) ده أؤ بورډ سره دې او ان کښې خپل فنډ د نشت برابر دے-

د بورډ مشرانو دا سوچ وکړو چې تر کومې پورې به دا بورډ دغسې کوځه په کوځه ګرځي نو هغوي ورته مستقل دفتر دپاره حيات آباد فېز۷ کښې درې کناله زمکه د بورډ په پېسو اخستې ده کار ئې پرې لا تر اوسه نۀ دے شروع کړے- '' دې سره سره د بورډ يو خپل مستقل دفتر دپاره په حيات آباد کښې پلاټ واغستے شو '' [1] هغه پنځوس لاکه روپۍ په بېنک کښې پرتې دي او د هغې په امدن (Income) بورډ چلؤلے شي- په دې حقله داود ليکي:

'' پښتو ادبي بورډ د NGOد طرز يو تنظيم دے- د حکومت له اړخه هيڅ سالانه فنډ يا ګرانټ نۀ شي ورکولے- د بورډ تر اوسه خپل دفتر نشته- صرف د هغه پنځوس لکو روپو په بېنک منافع خپل کار چلوي- '' [2]

د شروع نه د دې بورډ چئېر مېن ښاغلے محمد اعظم خان دے- د بورډ د قيام سره ئې زر تر زره د '' تاترې '' مجلې اجراء هم وکړه چې هر درې مياشتې پس به چاپ کېده- د فنډ د کمي له کبله اوس شپږ مياشتې پس چاپ کېږي- په شروع کښې د دې د مخونو شمېره لږه وه چې

1تاتره جولائي – ستمبر ۲۰۰۲ء، پښتو ادبي بورډ پېښور، مخ ۷-
2داود، داور خان، پښتو ادبي بورډ، نن او پرون، ناچاپ-

وروستو بیا دا رساله وغزېده- کهد صفحو تعداد ئې هر څو کم وو ولې که" روپۍ وړه ده خو په تول پوره ده" په مضداق د موادو په لحاظ ښهٔ برابر او توله ده-

د " تاترې " نه علاوه دې بورډ په نورو پراجېکټونو هم وخت وخت کار کړے دے چې عبدالواحد ټېکدار بابا (بابائے چاربېته) چاربېتې ئې د کلیات په شکل کښې چاپ کړې دي-

د همېش خلیل صېب " د قلم خاوندان " چې د شاعرانو ډائرېکټري ته وئیلے شو، هم د پښتو اکېډمۍ په اشتراک سره چاپ کړې ده-

د دې نه علاوه د دې بورډ بل پراجېکټ " د پښتو د امروزو او محاورو لغت سېلاب " په نوم چاپ کړے دے- دا لغت په الفبائي ترتیب کښې د نمونې په توګه تر (ا، ب، پ، ت) پورې چاپ شوے دے- دغه کار محقیق او مؤلف پروفېسر داور خان داود ډېر په ښهٔ شان سره ترسره کړے دے- داود صېب پرې ډېره علمي سریزه هم لیکلې ده چې د روزمرې او محاورې ډېر ښکلے او په زړهٔ پورې تعریف ئې کړے دے-

> " روز مره هغه خبره، مقوله یا محاوره وي چې د اولس د امروزه ژبې د استعمال مطابق وي- ولې کله چې محاوره په مجازي یا اصطلاحي معنو کښې استعمال شي نو صرف محاوره امروزه نهٔ وي- ولې کله کله چې په لغوي یا حقیقي معنو کښې پکار راوستلے شي نو محاوره او روزمره داوړه وي- "[3]

لنډه دا چې دغه لغت په ښکلي سپین کاغذو لوے سائز او هاډ بائنډنګ کښې چاپ شوے دے- د دې نورې ناچاپ په سؤنو امروزې او محاورې د پښتو ادبي بورډ سره پرتې دي چې د چاپ په انتظار دي-

د پښتو لغت " دریاب " الف پټۍ هم ځان له د بورډ له خوا چاپ شوې ده- پښتو ادبي بورډ په خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حمزه بابا او غني خان هم د CDاو DVDپه شکل کښې کار کړے دے چې د حمزه بابا په ژوند او فن ئې آډیو کېسټ په ذریعه محفوظ کړے دے-

3داود، داور خان، پروفېسر، د پښتو د امروزو او محاورو سېلاب، پښتو ادبي بورډ پېښور، کال ۲۰۱۱ء، مخ٤-

د دې نه علاوه پښتو ادبي بورډ دا اراده هم لري چې د پښتو ډکشنري ''دریاب'' یو ځل بیا خپلو لوستونکیو ته وړاندې کړي ځکه چې د دې وړومبے ایډیشن چې د ټیکسټ بک بورډ له خوا چاپ شوے اوس ناپېد او نایاب دے-

د تاترې د چاپ او کتابي سلسلې شروع کېدو په حقله د تاترې مدیر عنایت الله ضیاء د جنوري - مارچ ۲۰۰۴ء د ګڼې په اداریه کښې لیکي:

'' د نوي کال د تاترې نوې ګڼه خپلو ټولو لوستونکو ته نوي کال مبارکي وائي- د کلونو په حساب به دې شمارې سره د تاترې عمر درې نیم کاله شي- د '' تاترې '' کتابي سلسله چې د جولائي - ستمبر ۲۰۰۰ء نه شروع شوې ده او د نوي کال د جنورۍ - مارچ وړومبۍ ګڼه ستاسو په لاسو کښې ده- د ګنو په حساب دا نولسمه ګڼه جوړېږي ''- [4]

ما په شروع کښې هم خبره کړې ده چې تاترې د خپل معیار خیال ساتلے دے او بله دا چې ورائټي هم پکښې زیاته ده- د تاریخ، تحقیق، تنقید، ترجمه، تخلیق نه علاوه ئې د تخلیقي نثر، نظم، غزل او متلونو نه علاوه په نوي چاپ شوي کتابونو تبصرې او خطونه هم د دې د ګڼو ښکلا او زینت ګرځېدلے دے- لنډه دا چې تاترې د هر قسمه لوستونکو خیال ساتلے دے- کهد چا نظم خوښ وي او که نثر، تنقید که تحقیق یا تخلیق، ځکه ئې د لوستونکو تعداد هم ډېر زیات دے-

دې ادارې یو ځانګړے کار دا هم شروع کړے وو چې د کتابونو، لغتونو او مقالو او نظمونو نه علاوه ئې د آډیو کېسټونو په ذریعه په CDاو DVDشکل کښې هم د شاعرانو ادیبانو د ژوند حالات خوندي کول چې وړاندې ئې ذکر هم وشو- ښاغلے نثار احمد د دغې پراجېکټ په حقله د خپلو خیالاتو څرګندونه داسې کوي:

'' په دغه پراجېکټ کښې د نمونې په توګه په امیر حمزه خان شینواري باندې ډاکټر محمد اعظم اعظم او پروفېسر صېب (داور خان داود) کار وکړو- د ریسرچ نه پس ئې یو لنډېز هم تیار کړو او د آډیو کېسټ او سي – ډي په شکل کښې ئې عوامو ته پېش کړو چې ډېر زیات خوښ کړے شۀ- '' [5]

4درې میاشتنۍ تاتره، پښتو ادبي بورډ، جنوري – مارچ ۲۰۰۴ء، مخ ٤-
5تاتره، جولائي – دسمبر ۲۰۱۸ء، پښتو ابي بورډ پېښور، مخ ۷۳-

د پښتو ادبي بورډ او تاترې د چاپ کولو مقصد دا وو چې پښتون اولس خپلې ژبې، ادب، کلچر، تاریخ او د کتاب لوستلو سره مینه پېدا شي ځکه چې ژبه د ابلاغ د ټولو نه اهمه ذریعه ده- دې دپاره په ملکي او صوبائي کچ هم د ټي – وي، ریډیو، اخبارونو وغېره نه کار اخستلے کېږي- د پښتو لیکونکي او لوستونکي د نورو ژبو په مقابل کښې کم دي- که څوک کتاب چاپ هم کړي ولې بیا ئې مارکیټ او اخستونکي نۀ وي- په دې وجه د داسې قسمه ادارو ضرورت وي چې هغه داسې قسمه لیکونوو ته دوام ورکړي- رسالې او ګڼې چې چاپ کېږي او خورېږي نو په دې د هر قسمه لیکونکیو لیکونه چاپ کېږي او په هره موضوع پکښې لیکونه موندلے کېږي- ورائټي پکښې زیاته وي- د لیکونکو او لوستونکو پخپلو کښې پېژندګلو وشي ځکه چې نن د پښتو ادب لیکل او خورول د وخت اهمه تقاضه ده، ګڼې هغه قامونه د زمکې د مخ نه ورکېږي د کومو نه چې خپله ژبه ورکه شي- ځکه خو زمونږ دغه پوهان او مشران راپاځېدل او د خپلې ژبې او ادب د پرمختګ دپاره ئې کار شورع کړو- د دې دپاره دفتر، ځاے، لائبریرۍ، کتابونو، سټاف، کمپیوټر او ځینې نورو څیزونو حاجت او ضرورت هم وو- دې کار ته د پېسو او د حکومت د سرپرستۍ ضرورت وو-

> " د پښتو ادبي بورډ ډائرکټرانو اجلاس د چئېرمین محمد اعظم خان په مشرۍ کښې په ۳۰ مارچ ۲۰۰۲ء د بورډ د دفتر په کانفرنس روم کښې وشو- د بورډ په دفتر کښې دا اولنے اجلاس وۀ- په دې موقع د نوي دفتر، لائبرېرۍ، کمپیوټر لېب او کانفرنس روم باقاعده افتتاح وشوه- "[6]

د تاترې لائبرېرۍ نه د پاکستان نېشنل سنټر لائبرېرۍ ټول کتابونه هم راوړے شول ځکه چې د یو محقق او ادیب لائبرېري د حوالې په توګه په کار راوستلے شي- د آرکائیوز لائبرېرۍ نه تقریباً څلور زره کتابونه دلته منتقل کړے شول ځکه چې دا به ریفرنس لائبرېري وي- د دې لائبرېرۍ کتاب به په لائبرېرۍ کښې دننه لوستلے شي او کتاب به هیچاته نۀ شي جاري کولے-

د بورډ په پروګرام کښې نور هم ډېر کارونه شامل وو لکه ځینې اهمو انګرېزي او اردو اهم کتابونه پښتو ته ژباړل چې پښتو ژبې او ادب سره ئې څۀ نا څه تړون وي یا که

---

6تاتره، جولائي – ستمبر ۲۰۰۲ء، پښتو ادبي بورډ پېښور، مخ ٦-

چرې د پښتو نوے کتاب کېږي نو د هغې پنځۀ کاپۍ د بورډ دپاره په بیعه اخستل، د پښتو عالمي کانفرنس هغه مقالې کومې چې په دغه پروګرام کښې پېش کړے شوي وي هغه په کتابي شکل کښې چاپ کول- په مختلفو علاقو کښې ثقافتي مېلې او پروګرامونه کول- دې نه علاوه که چاسره ذاتي کتابونه وي نو هغه د بورډ لائبرېرۍ ته ورکول- پښتو د نصاب ژبه جوړول- د رحمان بابا د کمپلېکس دوباره جوړول او نور کارونه-

تر دې دمه تقریباً د ''تاترې'' درې شپېتۀ (۲۳) ګڼې د چاپ د خولې نه راوتي دي چې مدیر ئې د شروع نه تر اوسه پورې محمد اعظم خان دے چې د بورډ چئېرمېن هم دے- ادارتي مجلس کښې ئې وخت په وخت شاعران ادیبان پکښې هم راغلي دي خو په دغه کښې قمر راهي، ډاکټر محمد اعظم اعظم، ډاکټر راج ولي شاه خټک، ډاکټر فضل دین خټک، پروفېسر داور خان داود او واجد علي واجد خټک هم شامل دي-

د کمپوزنګ کار ئې وړاندې د امجد امین په ذمه وو او اوس دغه ذمه واري قاري عبدالنافع په برخه ده او پروف رېډر ئې مظهر علي مومند دے- د مالیاتو شعبه ئې نثار احمد سره ده- څۀ وخت دپاره ئې مدیر عنایت الله ضیاء هم پاتې شوے دے-

د پښتو ادبي بورډ فهرست مطابق دا لاندیني کسان د پښتو ادبي بورډ ډائرېکټران پاتې شوي دي چې وخت په وخت ئې خپله ذمه واري ترسره کړې ده-

(۱) محمد اعظم خان چئېرمېن (۲) صاحبزاده حبیب الرحمان (قلندر مومند)
(۳) پروفېسر تقویم الحق کاکا خېل (۴) پروفېسر پرېشان خټک
(۵) پروفېسر محمد نواز طائر (۲) ډاکټر محمد اعظم اعظم
(۷) وائس چانسلر پېښور یونیورسټي (۸) وائس چانسلر ګومل یونیورسټي
(۹) سېکرټري ایجوکېشن (۱۰) همېش ګل (منتظر بېټني)
(۱۱) جناب قمر راهي (۱۲) ډاکټر فضل دین خټک
(۱۳) محمد غازي (غازي سیال) (۱۴) جناب اسماعیل ګوهر
(۱۵) مېجر جنرل (ر) خورشېد علي خان (۱۲) ډائرېکټر پښتو اکېډمي

هر کله چې دغه ډائرېکټرانو کښې څوک وفات شوے دے نو د هغوي د بخښنې او مغفرت دپاره ئې هم غونډې کړې دي- دعاګانې ئې غوښتي دي- رودادونه ئې لیکلي دي- لکه د ''ادارې'' له خوا چې ''د بورډ ډائرېکټرانو د اتمې غُنډې روداد'' په تاتره اکتوبر –

دسمبر ۲۰۰۹ء کښې چاپ شوے دے۔ په دغه کښې د بورډ د نوي تيار شوي وېب سائټ پرانسته هم وشوه چې دا دے۔ (WWW.Pakhtoadabiboard.org)۔د بورډ د نورو کارونو جائزه هم واخستې شوه۔

په دغه غونډو کښې چې کومو کسانو برخه اخستې وه اوس پکښې اکثر وفات شوي دي۔ د غمرازۍ ثرګندونه کړه۔

" په اخر کښې د وفات شويو ډائرېکټرانو او نومړو اديبانو په وفات غمرازي وشوه او د دوئ د مغفرت دعا ئې وکړه۔ په غونډه کښې محمد اعظم خان چئيرمېن، ډاکټر محمد اعظم، ډاکټر فضل دين خټک، غازي سيال، پروفېسر داور خان داؤد، واجد علي خټک سېکرټري، د مالياتو د امورو افسر نثار احمد او مظهر علي مومند برخه واخېسته۔ "[7]

او دغه شان ئې د نامتو شاعرانو ليکوالانو، اديبانو په مړينه هم د غمرازۍ ثرګندونه کړې ده۔ لکه د مثل خان راهي په وفات چې د خوشحال ادبي جرګې اکوړي صدر وۀ۔ د هغوي په ناڅاپي مړينه چې ډاکټر عرفان خټک په منظوم شکل کښې " راهي ته د عقيدت پېرزوئنې " تر عنوان لاندې ليک کړے دے۔ يو خوا که دغه ليک په " تاتره " کښې چاپ شوے دے نو " اداري " ورسره د خپل اړخه هم د غمرازۍ ثرګندونه کړې ده۔

" د تاترې اداره د نامتو ليکوال او محقق مثل خان راهي په مړينه غمرازي کوي او دا دعا چې الله تعالی دې ئې مغفرت نصيب کړي او پسماندګانو ته ئې صبر جميل ورکړي۔ آمين۔ "[8]

پښتو ادبي بورډ دا کارنامه هم د ستائېلو وړ ده چې د ليکوالو په مړينه صرف خصوصي ګڼې نۀ وباسي بلکښې هغوي ته په ژوند هم درناوے ورکوي او د هغوي په اعزاز او درناوي کښې ناستې او پروګرامونه کوي۔ يو خوا کهد هغوي د شخصيت فکر و فن او هڅو هاندو اعتراف وشي نو بل خوا د دوئ د کردار، شخصيات او پېغام نه هم خلق واقف او خبر شي او خلق ئې د نزدې ووينې او وګوري۔ په درسي موقعو د شاعرانو اديبانو نه علاوه نور هم

7تاتره، اکتوبر – دسمبر ۲۰۰۹ء، پښتو ادبي بورډ پېښور، مخ ۱۰۶۔
8تاتره، اکتوبر – دسمبر ۲۰۰۹ء، پښتو ادبي بورډ پېښور، مخ ۱۱٤۔

سیاسي او سماجي شخصیات هم راغوښتلے کیږي- دې سره د هغو شاعرانو، ادیبانو همت او حوصله نوره هم سیوا شي او اعتراف ئې هم وشي-

په دې لړ کښې پښتو ادبي بورډ وړومبے ناسته د ایاز داودزي صیب سره کړې وه چا چې خپل اوږد عمر د پښتو ادب د ناوې د سر څنې دپاره وقف کړے وۀ- چا چې په وینه هم د '' پښتو '' خوبونه لیدل-

'' یو داسې نوم چې په ادبي دنیا کښې هرچا اوریدلے وۀ خو لیدلے یو قمر راهي صیب وۀ او د هغوي قیصو داسې مشهور کړو چې په هر زړۀ کښې ئې د لیدو تمنا غزونې وکړې- پښتو ادبي بورډ د دوئ دا تنده اپریل ۲۰۰۴ء په شپږم تاریخ د '' ایاز داودزي '' په حقله جوړ یو سیمنار کولو سره ماته کړه- ''[9]

دې نه علاوه ئې نور پروګرامونه هم کړي دي- پښتو ادبي بورډ او پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون په کال ۲۰۰۳ء کښې د'' مورنو ژبو د بین الاقوامي ورځې'' په مناسبت سره هم پروګرام جوړ کړے وو-

د پښتو ادبي بورډ یو بل اهم اقدام چې وخت په وخت ئې د خپلو اتلانو، شاعرانو ادیبانو د ژوند او فن په اعتراف کښې '' خصوصي نمبرې '' هم شائع کړي دي- لکه په ایاز داودزي باندې '' تاتره ایاز داودزے نمبر جولائي – ستمبر ۲۰۰۴ء ''- دې نه پرته په خوشحال بابا، رحمان بابا، حمید بابا، حمزه بابا، اجمل خټک، غني خان، ډاکټر محمد اعظم اعظم، قمر راهي، ایاز داودزي او سلطان محمد صابر نمبر (شریک) او د ارمي پبلک سکول پېښور او باچا خان پوهنتون چارسدې د شهیدانو په نوم نمبر (ګډه) چې په جنوري – جون ۲۰۱۲ء کښې شائع شوے دے-

د پښتو ادبي بورډ دغه کاوش اوکوشش هم دهېرولو نۀ دے څکه چې یو پلؤ ے خپل مشران په ژوند درانۀ کړي او نمانځلي دي نو په مړینه ئې هم نۀ دي هېر کړي- خصوصي ګڼې ئې پرې وېستلي دي- لکه د ډاکټر محمد اعظم اعظم په وفات چې پښتو ادبي بورډ '' خصوصي ګڼه تاتره، ډاکټر محمد اعظم اعظم نمبر جوالائي – دسمبر ۲۰۱۳ء '' په نوم شائع کړې ده چې پکښې اعظم صیب ته په نظم او نثر کښې د عقیدت پېرزوئنې

9 تاتره، جولائي – ستمبر ۲۰۰٤ء، پښتو ادبي بورډ پېښور، مخ ٤-

وړاندې کړے شوي دي- شاعرانو اديبانو د هغوي په ژوند او فن کوم ليکونه کړي دي په دې خصوصي ګڼه کښې په نظر راځي-

د اعظم صيب په حقله د هغوي کور وداني ډاکټر انيتا اعظم ليکي:

'' اعظم صېب يو ډېر ښۀ زوے، ډېر ښۀ ورور، ډېر ښۀ د ژوند ملګرے او ډېر ښۀ پلار او د هر څۀ نه زيات يو ښۀ بنيادم وۀ- '' 10

مختصره دا چې پښتو ادبي بورډ په هره حواله د پښتو ژبې او ادب خدمت ته ملا تړلے ولاړ دے-

10تاتره، ډاکټر اعظم نمبر، جولائي – دسمبر ۲۰۱۳ء، پښتو ادبي بورډ پېښور، مخ ۵۹-

**References**

1: Tatara, July_September 2002, Pashto Adabi board peshawar, p_7
2: Daud, Dawar khan, Pashto Adabi board, Nan aw parun, unpublished
3: Daud, Dawar khan, Prof, Da pukhto amrozo aw mahaviro sailab, pashto Adabi board, 2011, p_ 4
4: Tatara, Jan _March, 2004, Pashto Adabi board, p_ 4
5: Tatara, July_ sep, 2018, p_ 72
6: Tatara, July_ sep, 2002,p_6
7: Tatara, Oct_ Dec, 2009, p_106
8: Tatara, Oct _Dec, 2009, p_ 114
9: Tatara, July_ Sep, 2004, p_4
Tatara, Doctor Azam number, July_ Dec, 2013,p_ 59